حالا در عصرِ تکنولوژی و در میان رقابت کشورهای پیش‌رفته تعلیم و تحصیل حرف اول را می‌زند. از آن‌جایی‌که بزرگی و اقتدار کشورها منوط بر سطح سواد آن کشور است. نیروی جوان یک کشور که سرمایه مادی و معنوی هرکشور است؛ نقشِ بارز را در بلندبردن باسواد سازی کشورها ایفا می کند.
جوانان از نقطه نظرِ قوهٔ فیزیکی و فکری برتری خاصی نسبت به کهن‌سالان دارند. آنانی‌که تقلا بر پیش‌رفت دارند و مداومت در تحصیل، بروزترین‌های هستند که می‌توانند همگام با دنیای‌نوین حرکت کنند.
بعد از آن‌که برتری و بزرگی تحصیل را کشورها به مفهوم پیش‌رفت درک کردند، برای آنانی که با انگیزه‌ی بلند درس می‌خوانند؛ به‌صورت مجانی پوهنتون ها را ایجاد کردند. نتیجهٔ آن همه تلاش‌های دولت‌ها و دولت‌مردان، عصرِ تکنولوژی و جهان امروزی است. همه‌یِ اکتشافات و دنیای‌نوین مدیون علم‌ودانش است. پیش‌رفت‌های جهان امروزی به‌دور از دانش اصلاً امکان‌پذیر نبود.



**حجاب په اسلام کې!**

حجاب د اسلام د خوږ پېغمبرصلی الله علیه وسلم د مبارکو بېبیانو(د مسلمانانود میندو) څخه پیل شو، د حجاب تر ټولو لومړی حکم په (٥) هجري کال کې نازل شو، داهغه وخت و، چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د مسلمانانو د مور بي بي زينب رضي الله عنها سره نکاح وکړه او حکم داسې وشو، چې مؤمنان باید د خوږ پېغمبر صلی الله علیه وسلم کور ته بې له اجازې داخل نشي.
چې په دې ترځ کې نبی کریم صلی الله علیه وسلم د ټولو بېبیانو پر دروازو باندې پردې وځړولې، او د ټولو غیر محرمو راتګ بند شوو، په یوه روایت کې داسې راغلي دي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم بي بي عائشې رضی الله عنها د اکا (کاکا) زوی طلحه بن عبيدالله رضي الله عنه د بي بي عائشې رضي الله عنها سره لېدل بند کړل.
له دې څخه دا جوته شوه، چې د پردې حکم د لومړي ځل لپاره د مسلمانانو میندو ته وشو چې اوس یې حکم ټول امت مسلمه ته دی، د اُمت مسلمه لونې یې باید حجاب خپل شعار وګرځوي.
پر حجاب د اسلامي حکم راتللو څخه وړاندې هم حجاب ډېر ارزښت درلود، د هجرت د (٣) کال څخه وړاندې یو یهودي چې د بني قینقاع د یهودو څخه د مدینې منورې څخه په څه واټن باندې په خپل زرګرۍ(طلا فروشۍ) کې ناست و، چې یوه ښځه تېرېدله او مخ یې پټ و، دې یهودي ډېر ورته وویل، چې مخ لوڅ کړه! او اخر یې په یو چل سره د هغې حجاب ایسته کړ؛ هغې چیغې او نارې کړې، د مدینې منورې په ښار کې یو مسلمان دا چغې واورېدې، چې هغه راغی او ددې یهودي چاره(ويې واژه) یې وکړه.، نور یهود راغلل او دا مسلمان یې شهید کړ، دا خبر نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته ورسېده؛ څو سوه یهود راغلل او نبي کریم صلی الله علیه وسلم یې محاصره کړ، نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغه یهودي مړ نه کړ او هغه دده ټول سامان یې د غنیمت په توګه ووېشه او څه وخت وروسته دا یهودي شام ته ولاړ او ډېر ژر هغه هلته مړشو، چې دا کیسه مکمله په (سیرة ابن هشام، تاریخ کامل ابن اثیر) کې راغلې ده.
الله جل جلاله د بشریت ستر لارښود صلی الله علیه وسلم ته فرمایي:
يَٰٓأَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّ ۚ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰٓ أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا (سورت احزاب: ٥٩)
ژباړه: ای پېغمبره (ص) ! خپلو مېرمنو او لوڼو او د مؤمنانو ښځو ته ووایه چې پر خپل ځان باندې د خپلو ټکریو پلوونه خواره کړئ، دا ډېره مناسبه کرنچاره ده ، تر څو چې هغوی و پېژندلای شي او ونه ځورول شي، الله تعالی ښه بخښونکی او مهربانه دی.
یعنی وروسته د ټول بدن له پټولو څخه د ټکري (پوړنۍ) څه برخه پر سر او څه برخه یې له سر ځینې راښکته کړي، پر خپله څېره باندې یې وځړوي، په روایاتو کې راغلي دي، چې وروسته ددې ایت له نزوله مسلمانو ښځو به خپلې څېرې او ټول بدنونه په خپلو ټکریو(پوړنو) سره پټول او بیا به د باندې داسې وتلې، چې یوازې به د دوی یوه سترګه ښکاره کېده، چې په هغه سره لاره ومومي، له دې نه معلومه او ثابته شوه، چې د فتنې او فساد په وخت کې ښایي چې آزادې اصیلې ښځې خپله څېره هم پټه کړي، او وینځې د شدید ضرورت که کبله نه دي مکلفې ((ښه وپېژندل شي، چې دا وینځه نه؛ بلکې بي بي ده، د ننګ او ناموس مېرمن ده، بدبخته او بد ناموسه نه ده، بد ذاته نه ده؛ بلکې دا نیکه بي بي او نیکبخته ده؛ نو ځکه بدنیته خلک هغوی ته لاس نه غځوي او حجاب یې ښه ده، چې دا حجاب د بهترۍ حکم دی، او د حیاء سمبول دی.



# لنډه کیسه (بې تربیه)

بوډا بس ته وخوت، سترګې یې ورغړولې، نیمایي څوکۍ ښځو نیولې وې.
پاتې څوکۍ یې تر سترګو تېرې کړې، له سپینو ږیرو پرته یې بل څه ونه لېدل. یو ناڅاپه یې تندی وغوړېد، په ولاړو کسانو کې یې په زحمت لار وایسته. د یوه تنکي ځوان سر ته ودرېد.
بوډا وټوخل
تنکی ځوان غلی ناست و.
د بوډا په زړه کې ور تېره شوه:
_هله نو! پورته، له سپینې ږیرې مې وشرمېږه.
تنکی ځوان هماغسې غلی ناست و.
بوډا دکه ورکړه، هلک ور وکتل، بېرته یې سر وځړېد.
بوډا سوړ اسویلی وایست:
_وخت خراب شو، د مشرانو احترام نه شته.
بس! خړې سترګې به یې درته نیولې وي.
په بله څوکۍ کې ناست سپین ږيرې وویل:
_موړ هم ځواني تېره کړه، خو دومره بې حیا نه وو، مشر او کشر مو پېژندل.
له اخیرې څوکۍ زوړ غږ راغی!
_څه یې کوی! پلار یې څه نه دې ورښودلې. ناست دې وي.
بس ودریده، بوډا پر تنکي ځوان ور ړنګ شو، پر ورانه یې کلکه چونډۍ ور ولګوله، بېرته ودرېد.
هلک ور وکتل، سترګې یې له اوښکو ډکې وې.
بوډا یودم وخندل، ګونځې شونډې یې هوارې شوې، ویې ویل:
_اجبه ده! قلم یې ام په جېب کې ټومبلی، مانا ، سواد هم لرم.
نږدې سپین ږیرو وخندل.
یوه وویل:
_دی به هم معلم ته ناست وي.
ولاړ بوډا په خبره کې ور ولوېد:
_له تعلیم سره یې تربیه هم ویلي دي، تربیه خو مو دا ده ولیده، دا مو د معلمینو حال، خدای خبر ، درس به یې څنګه وي.
هلک مړې سترګې ور واړولې.
د بس نګران چیغه کړه!
_هلی نو! کرایه مو را وباسئ!
ولاړ بوډا پنځه ګون ورته ونیو. نګران د تنکي ځوان پر اوږه لاس کېښود، ځوان په بېړه وویل:
_ولې! مور به مې کرایه در کړې وي!
نګران وویل:
_ښه، نو هغه بې پښو هلک ته یې؟
ولاړ بوډا په بېړه ټیټ شو، د هلک پر ورنو لمن پرته وه، د پرتوګ دواړه پایڅې یې غونجې او سره ټولې وې.

# ادامه داستان غرق شدن تایتانیک

آب به بخش قدامی کشتی راه می یابد. انجنیران در بخش تحتانی کشتی درگیر مبارزه یی اند که فرجام آن باخت است. آنها گام به گام در برابر پیشقدمی و بالا آمدن آب عقب نشینی می کنند.
ساعت 12:45 شب. چشمان افسر نخست خسته به نظر میرسد؛ اما به آرامی و بی هراس به افراد خود میگوید تا قایق های نجات را پایین آورند. مادامی که از زنها خواسته میشود تا به قایق سوار شوند، آنها در حالت دو دلی منتظر می مانند و جرأت نمی کنند تا به قایق کوچکی سوار شده، در اوقیانوس پر از کتله های یخ به وسیلهٔ آن سفر کنند. هنوز به این باور اند که تایتانیک غرق شدنی نیست. قایقی با ظرفیت شصت و پنج تن پایین آورده میشود که صرف بیست و هشت تن در آن جا میگیرند. بعد تر قایق دیگری که ظرفیت چهل تن را داشت، صرف دوازده تن را از تایتانیک انتقال میدهد. هنگامی که قایق های نجات یکایک از کشتی پایین آورده میشوند، گروه موسیقی کشتی، موسیقی جاز ر ا می نوازد.
ساعت 1:20 بعد از نیمهٔ شب. اکنون قایق های بیشتری پایین آورده شده اند. بارهای این قایق ها سنگینتر اند؛ زیرا مسافران معتقد گردیده اند که تایتانیک در حال غرق شدن است. زنها گریه میکنند. مردها در حین خداحافظی به زنهای شان میگویند: به لحاظ خدا برو! این آخرین چانس توست؛ برو! آنها میکوشند زنهای شان را وادار کنند تا به قایق سوار شوند. خانمی میخواهد به قایق سوار شود؛ اما بعد از چند لحظه مکث به سوی همسرش بر میگردد و میگوید: " ما سالهای زیادی باهم بودیم، حالا هرجا تو باشی، با تو خواهم بود" . سرباز جوانی با همسر جوانش که چند روزی بیش از عروسی شان نگذشته است، به سوی قایق میروند. سرباز به همسرش میگوید: "به قایق سوار شو، من بعد تر ترا خواهم دید." همین که به همسرش کمک کرد تا به قایق سوار شود، دوباره به تایتانیک برمیگردد. از آنجا به قایقی نگاه میکند که از زنان و کودکان پر شده و با امواج اوقیانوس همراه میشود.
ساعت 2:00 بعد از نیمهٔ شب. تایتانیک در حال غرق ش دن ا ست. قسمت پیشروی کشتی در حال فرو رفتن و ناحیهٔ عقبی آن در حال بالا شدن است. انجنیران هنوز هم در ناحیهٔ تحتانی کشتی در تلاش اند که چراغ ها را روشن نگهدارند تا تعداد بیشتر قایق ها که در جناح های کشتی قرار دارند، پایین آورده شوند. در خواست برای کمک هنوز هم از طریق ارسال پیام های رادیویی ادامه دارد.
2:10 بعد از نیمهٔ شب. حالا تمام قایق های نجات فرو آورده شده اند. مجموعاً 660 تن به قایق ها سوار شده و تخمین 1500 تن هنوز هم در تایتانیک که در حال غرق شدن است، باقی مانده اند.
کپتان به اتاق رادیو پایین میشود؛ با سیمای خسته و اندوهگین به افراد خود میگوید: " شما هرآنچه در توان داشتید، انجام دادید؛ کار بیشتری در توان تان نیست؛ حالا هرکس برای نجات خودش بکوشد." سپس کپتان ناپدید میشود...دوباره به محلفرماندهی که در حال غرق شدن است میرود. تلگرافچی هنوز روی چوکی خود نشسته و پیوسته برای درخواست کمک پیام می فرستد. موسیقی نواز ها در حال نواختن موسیقی اند؛ اما نه موسیقی جاز؛ بلکه موسیقی مذهبی مینوازند.
چند تن دیگر، دعای دیگری را روی عرشهٔ در حال میلان کشتی میخوانند. چراغ ها هنوز روشن اند. انجنیران هنوز هم دست به کار اند. موسیقی به پایان میرسد؛ اما مردی که متصدی بخش موسیقی است، هدایت میدهد تا سرود دیگری را بنوازند؛ تا این که آب به بجلک های پاهایش میرسد. هشت تن از موسیقی نوازان میکوشند تا تعادل خود را در کشتی در حال میلان حفظ کنند. راکبین کشتی، خود را از عرشهٔ کشتی به آبهای پر از کتله های یخ می اندازند. آب به محل فرماندهی کشتی میرسد؛ جایی که کپتان در آن قرار دارد.
2:17 بعد از نیمهٔ شب. مردانی که در کشتی باقی مانده اند، عرشهٔ تاریک کشتی را دور میزنند. در حالی که اوقیانوس آهسته آهسته کشتی بزرگ را می بلعد، آنها در تاریکی هولناک شب، یکایک خود را به اوقیانوس انداخته منحیث آخرین کوشش در اوقیانوس بیکران به شنا می پردازند. بخش عقبی کشتی هنوز در حال بالا شدن است. بخش قدامی قبلاً در آب فرو رفته است. محل فرماندهی اکنون زیر آب قرار دارد. یکی از دود کش ها که از هزاران پوند فولاد ساخته شده است، می شکند و به آب می افتد. سقوط این کتلهٔ عظیم فولادی میتواند سبب مرگ شناورانی شود که در حوالی کشتی در آبهای سرد در تلاش نجات جان شان اند.
در پایین، در اتاق تاریکی که در آن ماشین کشتی قرار دارد، با بلند شدن بخش عقبی کشتی، انجنیرها در جهت مقابل ماشین داغ می افتند. آب تا زانو های شان رسیده است. بایلرهای مولد بخار از محل نصب شان سست شده در برابر آنها می افتند.
تایتانیک پیش از آن که به اعماق آبها فرو رود، برای چند ثانیه به فرق می ایستد؛ سپس آهسته آهسته به سوی آرامگاه خود پیش میرود. ابتدا آهسته، بعد سریعتر -- سریعتر -- سریعتر .
2:20 بعد از نیمهٔ شب. بزرگترین کشتی جهان غرق میشود. تایتانیک در آبهای کاملاً تآریک، جایی که قایق های نجات از آن حرکت کرده اند، در میان کف سفید دریا، رهسپار گورستان آبی خود میشود.
پایانی با یک تراژیدی مستمر!

# شعر و ادب

به قبـــرستان گـــذر کـردم صباحـی
شنیـــدم نالـــه و افغـــان و آهـی
شنیـــدم کلـــه‌ای بـا خـاک می‌گفت
کـــه ایـن دنیـا نمــی‌ارزد به کاهـی

*

دی کـوزه گـری بدیـدم انـدر بـازار
بـر پـاره گلـی لگـد همـی زد بسـیار
و آن گل بزبـان حـال بـا او می‌گفـت
مـن همچـو تـو بـوده‌ام مـرا نیکـودار

*

چـون نیسـت ز هـر چـه هسـت جز باد بدسـت
چـون هسـت بهرچـه هسـت نقصـان و شکسـت
انـگار کـه هرچـه هسـت در عـالم نیسـت
پنـدار کـه هرچـه نیسـت در عـالم هسـت

یـک چنـد بـه کودکـی بـه اسـتاد شـدیم
یـک چنـد ز اسـتادی خـود شـاد شـدیم
پایـان سـخن شـنو کـه مـا را چـه رسـید
از خـاک بـر آمدیـم و بـر بـاد شـدیم.

*

از منـزل کفـر تـا بـه دیـن یـک نفـس اسـت
وز عـالم شـک تـا بـه یقیـن یـک نفـس اسـت
ایـن یـک نفـس عـزیز را خـوش مـیدار
کـز حاصـل عمـر مـا همیـن یـک نفـس اسـت

*

ای چـرخ فلـک خرابـی از کینـه تسـت
بیدادگـری شـیوه دیرینـه تسـت
ای خـاک اگـر سـینه تـو بشـکافند
بـس گوهـر قیمتـی کـه در سـینه تسـت

## راه دل

دل چو کند عزم سفر هر زمان
پای بجنبد کہ بگردد روان
دست بجنبد زپی ساز وبرگ
آنچہ بکار است، بیارد همان
شانہ دهد شانہ بہ بار سفر
دست کند قامت خودرا کمان
دل بفرستد غزل دل نشین
تا بہ سفر خوش بسراید زبان

****

لیک اگر کاری نبود دل پذیر
لشکر اعضاء بِشود. ناتوان
ره نرود پای اگِر دل نرفت
درس بیاموخت ازین حاکمان
حاکمی گر خواست کہ هر زیر دست
سبز بپوشد همہ جا هرزمان
لیک دل مردم ازین امر او
زرد شود همچو درخت خزان
ترک کنند خانہ و کاشانہ را
تا دل شان خوش بتپد در امان
لیک گر این قاعد سبزرنگخواه
راه بیابد بہ دل مردمان
سبز نشیند بہ دل خاص وعام
در صفت اش نیک گشایند زبان
سبز شود جامۀ هر مرد وزن
رنگ بهاران بپذیرد روان
شاه چو در قلب رعیّت نشست
حاجت لشکر نبود درمیان
دکتور فیض الله کاکړ

# فکاهیات



شـخصی از حافـظ غزلـی بـه یکـی از شـاهان خوانـد شـاه بعـد از شـنیدن لـب بـه تحسـین گشـود وگفـت شعرقشـنگی اسـت ولـی گوینـده حافـظ اسـت.مرد بادسـتپاچگی گفـت خیـر قربـان مـال مـن اسـت. وحافـظ آن را دزدیـده اسـت شـاه گفـت مـردک آن وقـت کـه حافـظ ایـن شـعر را سـروده تـو وپـدرت هـم نبودیدمـرد گفـت: درسـت اسـت امـا اگـر مـن میبـودم پـدرش دزدیده نمیتوانسـت.



**معلـم بـه شـاگردش گفـت : بـا باقـی جملـه بسـاز. شـاگرد گفـت: مـا دیشـب پیتـزا خوردیـم! معلـم پرسـید: پـس باقـی اش کـو؟ شـاگرد گفـت: باقـی اش ده یخچال اس.**



# اعـــلانـــات

ترتیب کننده: زمری یعقوبی

## د کابـل پـولي تخنیـک پوهنتـون تـدارکاتي اعلان

د کابـل پـولي تخنیـک پوهنتـون ټولـو پـه شرایطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوي.
څـو د ( ۴۱۲۸۰ ) کیلـو ګـرام مایـع ګازو د داوطلبـۍ پـه پروسـه کـې، چـې د ۱۴۰۱ کال لپـاره د لیلیـې محصیلنـو د خـوړو پخولـو، د اداري، تدریسي ادارو او په ژمـي کـې د شپني محافظـه کارانـو د ګرمولـو پـه موخـه، چـې د NCB /101 /MOHE/KPU داوطلبـۍ شـمېره ده، یـو شرکـت تـه چـې د بشـپړ لوژیسـتکي خدمتونـو درلودونکـی او د جـواز نمـبر یـې ( ۴۷۵۶۷ ) دی، چـې د کابـل پـه ( ۳ ) ناحیـه او دریېمـه کارتـه ـ کابـل ـ افغانستان کې موقعیت لري،
پـه ( ۳۳۰۲۴۰۰ ) درې میلیونـه درې سـوه دوه زره او څلـور سـوه افغانـۍ ټـول قیمـت سره ورکوي.
پـه دې تـړاو حقیقـي او حکمـي اشـخاص کـه اعـتراض لـري، کولـی شي خپـل لیکلـی اعـتراض لـه دلایلـو سره د اعـلان د نـشر نیټـې څخـه تـر اوو ۷ نـورو ورځـو پـورې، د کابـل پـولي تخنیـک پوهنتـون، چـې پـه کارت مامورېـن د کابـل پنځمـه ناحیـه کـې موقعیـت لـري، د تدارکاتـو د ۵۰ مـې مـادې مطابـق، د تدارکاتو ریاست ته وسپاري.
دا اعلان د تړون یا قرارد معنی نه لري،
او د پورتـه ذکـر شـویو معیارونـو تـر بشـپړېدو پـورې او د قانـوني طرزالعملونـو تعقیـب پـورې بـه قرارد ترسره نشي.

## د بغـلان پوهنتـون د علمـي کادري بسـتونو اعلان!

بغـلان پوهنتـون د درېیـم ځـل لپـاره پـه لانـدې ځانګـو کـې د ۱۴۴۳ هــ ق کال لپـاره د دوکتـورا، ماسـټرۍ او لېسـانس پـه کچـه علمـي کادرونـو ته اړتیا لري:
د ښووني او روزنې پوهنځی:
فزیک ډیپارټمنټ (۱) بست.
د اقتصاد پوهنځی:
اداره او مدیریت ډیپارټمنټ (۲) بسته.
د ادبیاتو او بشري علوموپوهنځی:
ژبې او اوزبیکي ادبیاتو ډیپارټمنټ (۲) بسته.
داوطلبـان کـولای شي، چـې د ۲۴ / ۱۲ / ۱۴۴۳ هــ ق څخـه تـر ۴ / ۱ / ۱۴۴۴ هــ ق نېټـې پـورې یـادو علمـي کادري بسـتونو تـه د نـوم لیکنـې پـه موخـه خپلـې غوښـتنپاڼې ډکـې، د نمـرو اصـل ټرانسـکرېپټ او د همـدې اعـلان کاپـي دې د وزارت له وېبپاڼې څخه ترلاسه کړي او د خپلـې تذکـرې لـه کاپـي سره دې اړونـده پوهنتون ته وسپاري.

## د ننګرهـار پوهنتـون د علمـي کادري بسـتونو اعلان!

ننګرهـار پوهنتـون د دوهـم ځـل لپـاره پـه لانـدې ځانګـه کـې د ۱۴۴۳ هــ ق کال لپـاره د دوکتـورا، او ماسـټرۍ پـه کچـه علمـي کادرونـو تـه اړتیـا لري:
د اقتصاد پوهنځی:
د ملي اقتصاد ډیپارټمنټ ( ۱ ) بسته.
داوطلبـان کـولای شي، چـې د ۲۴ / ۱۲ / ۱۴۴۳ هــ ق څخـه تـر ۴ / ۱ / ۱۴۴۴ هــ ق نېټـې پـورې یـادو علمـي کادري بسـتونو تـه د نـوم لیکنـې پـه موخـه خپلـې غوښـتنپاڼې ډکـې، د نمـرو اصـل ټرانسـکرېپټ او د همـدې اعـلان کاپـي دې د وزارت لـه وېبپاڼـې څخـه ترلاسـه کـړي او د خپلـې تذکـرې لـه کاپـي سره دې اړونـده پوهنتون ته وسپاري.

## د البیرونـی پوهنتـون د علمـي کادري بستونو اعلان!

د البیرونـی پوهنتـون د لومـړي ځـل لپـاره پـه لانـدې ځانګـو کـې د ۱۴۴۳ هــ ق کال لپـاره د دوکتـورا، ماسـټرۍ او لېسـانس پـه کچـه علمـي کادرونو ته اړتیا لري:
د شرعیاتو پوهنځی:
د ثقافت ډیپارټمنټ ( ۷ ) بسته ـ نارینه وو لپاره.
د ثقافـت ډیپارټمنـټ ( ۷ ) بسـته ـ ښـځینه وو لپاره.
داوطلبـان کـولای شي، چـې د ۱۸ / ۱۲ / ۱۴۴۳ هــ ق څخـه تـر ۱۷ / ۱ / ۱۴۴۴ هــ ق نېټې پورې یـادو علمـي کادري بسـتونو تـه د نـوم لیکنـې پـه موخـه خپلـې غوښـتنپاڼې ډکـې، د نمـرو اصـل ټرانسـکرېپټ او د همـدې اعـلان کاپـي دې د وزارت لـه وېبپاڼـې څخـه ترلاسـه کـړي او د خپلـې تذکـرې لـه کاپـي سره دې اړونـده پوهنتون ته وسپاري.

## د لوګـر لـوړو زده کـړو مؤسسـې د علمـي کادري بستونو اعلان!

لوګـر لـوړو زده کـړو مؤسسـه بیـا ځـل لپـاره پـه لانـدې ځانګـه کـې د ۱۴۴۳ هــ ق کال لپـاره د دوکتـورا، ماسـټرۍ او لېسـانس پـه کچـه علمي کادرونو ته اړتیا لري:
د جیولوجي او کانونو پوهنځی:
کانونـو کینـدل او ګټـورو جامـده مـوادو ډیپارټمنټ ( ۲ ) بسته نارینه وو لپاره.

داوطلبـان کـولای شي، چـې د ۱۸ / ۱۲ / ۱۴۴۳ هــ ق څخـه تـر ۲۷ / ۱۲ / ۱۴۴۳ هــ ق نېټـې پـورې یـادو علمـي کادري بسـتونو تـه د نـوم لیکنـې پـه موخـه خپلـې غوښـتنپاڼې ډکـې، د نمـرو اصـل ټرانسـکرېپټ او د همـدې اعـلان کاپـي دې د وزارت لـه وېبپاڼـې څخـه ترلاسـه کـړي او د خپلـې تذکـرې لـه کاپـي سره دې پکتیا پوهنتون ته وسپاري.

## د جوزجـان پوهنتـون علمـي کادري بسـتونو اعلان!

جوزجـان پوهنتـون بیـا ځـل لپـاره پـه لانـدې ځانګـو کـې د ۱۴۴۳ هــ ق کال د دوکتـورا، ماسـټرۍ او لېسـانس پـه کچـه علمـي کادرونـو ته اړتیا لري:
د کیمیاوي تکنالوژي پوهنځی:
خوراکي موادو ډیپارټمنټ (۱) بست عمومي.
عضـوي مـوادو تولیـد ډیپارټمنـټ (۱) بسـت عمومي.
د اجتماعي علومو پوهنځی:
روان پېژندنې ډیپاټمنټ (۱) ښځینه و لپاره.
داوطلبـان کـولای شي د ۱۴۴۳/۱۲/۲۵ څخـه تـر ۱۴۴۴/۱/۵ نېټـې پـورې یـادو علمـي کادري بسـتونو تـه د نـوم لیکنـې پـه موخـه خپلـې غوښـتنپاڼې ډکـې، د نمـرو اصـل ټرانسـکرېپټ او د همـدې اعـلان کاپـي دې د وزارت لـه وېبپاڼـې څخـه ترلاسـه کـړي او د خپلـې تذکـرې لـه کاپـي سره دې اړونده پوهنتون ته وسپاري

## اعلان کادرعلمی پوهنتون جوزجان!

پوهنتـون جوزجـان درسـال ۱۴۴۳ هــ ق برای بار مجـدد در رشـته هـای ذیـل بـه سـویه دوکتـور، ماسـتر و لیسـانس بـه کادر علمـي جدیـد ضرورت دارد.
پوهنځی: تکنالوژي کیمیاوی.
دیپارتمنـت تولیـد مـواد غذایـی (۱) بسـت عمومی.
دیپارتمنـت تولیـد مـواد عضـوی (۱) بسـت عمومی.
پوهنځی: علوم اجتماعی.
دیپاتمنـت روانشناسـی (۱) بسـت صرف بـرای اناث.
متقاضیـان ازتاریـخ ۱۴۴۳/۱۲/۲۵ الـی ۱۴۴۴/۱/۵ درخواسـتی شـمولیت در کادرعلمـی خویـش را ضـم اصـل ترانسـکریپت نمـرات، کاپـی همـین اعـلان از وب سـایت وزارت، و کاپـی تذکـره تابعیـت بـه پوهنتـون مربوطـه تسلیم نمایند.

# د موضوع شننه

لیکوال: انجینر محمد اسلم اسلم

د اونیزې قدرمنو لوستوونکو دا ځل د موضوع شننه کې درسره د روغتیا په اړه معلومات شریکه وم هیله ده چې له لوستولو وروسته ورته توجو وکړئ. درنښت

**روغتیا**

روغتیا د الله جل جلاله له لوري لوی نعمت او ستر امانت دی، نو د دې لوی نعمت او ستر امانت پوره قدر او عزت کوه، او په ساتنه کې پوره پوره خیال ساته او بې پامي مه کوه، ځکه چې روغتیا ته نه پاملرنه د ګڼو ستونزو زیږنده ده.

روغتیا ته نه پاملرنه داسې ده لکه چې یوه کتابخانه کې یوه ویانه ټوله کتابخانه خاورې ایرې کړي.

روغتیا ته نه پاملرنه د الله جل جلاله د دې ستر نعمت ناشکري ده، مسلمان انسان ته پکار ده چې د دې ستر نعمت د ناشکري پر ځای شکریه ادا کړي.

د انساني ژوند اصلي جوهر عقل، اخلاق، ایمان او شعور دی، چې دا ټول تر یوه ځایه پورې په صحت او روغتیا پورې اړه لري.

روغتیا څه ته وایې

په عمومي ډول روغتیا د وجود هغه نارمل حالت څخه عبارت دی چې ورځنۍ چارې وربانديې بې له خنډ او ځنډ څخه پرمخ بیول کیږي.

روغتیا په دوه ډوله ده:

۱: جسمي روغتیا ۲: رواني روغتیا

جسمي روغتیا

د انسان د سیستمونو صحیح او سالم والي ته جسمي روغتیا ویل کیږي.

رواني روغتیا

د انسان عقلي او شعوري حالت سالم والي ته رواني روغتیا ویل کیږي.

په اسلام کې په روغتیا ځکه ټینګار شوی چې:

۱- اسلام د امراضو د مخنیوي او وقایه لپاره په پاکي او نظافت باندې زیات ټینګار کړی دی ، پاکي او نظافت یې د لمانځه د صحت لپاره شرط ګرځولی دی لکه : بې اودسۍ او جنابت څخه د بدن پاکوالي د نجاست څخه د لباس او ځای پاکوالی.

۲: په مسواک وهلو باندې ځکه ټینګار شوی، چې مسواک خوله پاکوي او کله چې خوله پاکه شوه نو معده پاکه شوه او کله چې معده پاکه شوه نو ټول بدن د مکروبونو، باکتریاوو او جراثیمو څخه پاک شو.

۳: نبی اکرم صلی الله علیه وسلم حکم کړی دی چې کله د خولې بلغم توکوئ نو په هغه باندې خپله پښه را کشوئ (ځکه دغه کار د ناروغیتو د انتشار او خپریدو کوي او بل مسلمان د هغه څخه بد نه وړي)

٤: همدارنګه د نبي علیه السلام ارشاد مبارک دی چې د اوبو څښلو پر مهال به په اوبو کې پوکل نه کوئ (هغه ساه کوم چې له بدن څخه خارجیږي کاربندای اکساید دی ، کله چې کاربن دای اکساید له ابو سره یوځای شي یو ډول تیزاب د کاربونیک اسید په نوم جوړوي چې د معدی په هضمې سیستم بد اثر کوي او بل هغه ساه چې له بدن څخه خارجیږي ناپاکه وي)

٥: د نبي علیه السلام بل ارشاد مبارک دی چې د خوب څخه مخکې خپل لاسونه ومینځئ که چیرې څوک خپل لاسونه ونه مینځي نو که څه ضرر او ناروغي ورپیښه شي مسئولیت یې پر خپله غاړه دی.

٦ : نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د خوراک څخه وروسته د سمدستي خوب کولو څخه منع فرمایلي ځکه چې دا کار په هضم کې سختي رامنځته کوي.

۷: رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم کړی دی چې د خوراک لوښي لوڅ مه پریږدئ ، د خوراک د لوښو سرونه پټوئ ځکه چې په دې سره د امراضو مخنوی کیږي.

۸: اسلام حکم کړی دی چې د خپلو ښځو سره د میاشتني عادت (حیض) پر مهال د هغه سره جماع مه کوئ ځکه دا کار د سختو امراضو سبب کیږي.

کله چې د مسلمان انسان صحت او روغتیا ښه وي....

په بله ګڼه کې

# رابطه دین و فرهنگ

ترتیب کننده: عبدالمرید "کوهستانی"

در تعریف دین، به گونه ای که دین حق را شامل شود و بر تمام ادیان الهی که در زمان خود اصالت داشته اند و بعدها تحریف شده اند صادق باشد. اسلام به عنوان یگانه دین حق، عبارت است از مجموعه ای از باورهای قلبی که برآمده از امور فطری و استدلال های عقلی و نقلی است و تکالیف دینی که از سوی خدای متعال بر پیامبر اسلامصليالله‌عليه وآله‌وسلم و به منظور تأمین سعادت دنیوی و اخروی بشر نازل شده است.این تکالیف تمامی اموری را که به نحوی در سعادت دنیا و آخرت انسان نقش دارد در بر می گیرد.

دین جزء فرهنگ تلقی می شود زیرا فرهنگ در این دیدگاه هم شامل باورهای قلبی دیني و غیر دینی و هم شامل رفتارها و اخلاق و آداب و رسوم دینی و غیردینی است. از این رو، دین جزء فرهنگ و زیر مجموعه ای از آن تلقی می شود. اما اگر دین را با گونه دوم از تعاریف مقایسه کنیم، از آنجا که در این نوع از تعاریف ظواهر رفتار و آداب و رسوم به عنوان فرهنگ شناخته می شوند، رابطه دین با فرهنگ بسان دو مجموعه ای که فقط در بخشی از اعضا مشترک هستند قابل شناسایی است، و در این دیدگاه نه دین کاملا جزء فرهنگ است و نه فرهنگ زیر مجموعه ای از دین می باشد.شاید بتوان گفت تعریف فرهنگ به عاملی که به زندگی انسان معنا و جهت می دهد، منطقی ترین سخن در تعریف این واژه می باشد. معناداری زندگی انسان برگرفته از نحوه نگرش انسان به جهان و انسان و یا به تعبیر دیگر تابع جهان بیني و انسان شناسی اوست. جهان بینی نیز به نوبه خود نظام عقیدتی و نظام عقیدتی نظام ارزشی را شکل می دهد.از طرفی چون افعال اختیاري انسان تابع اراده او هستند و اراده انسانها نیز در پرتو نوع نگرش و نظام ارزشی مورد قبول آنها شکل می گیرد رفتارهای انسان نیز تابعی از نظام ارزشی مورد قبول او خواهند بود. خلاصه اینکه معنا داری زندگی انسان در گرو انجام اعمال و رفتارهایی است که در چارچوب نظام ارزشی ویژه یک جامعه، و در راستای باورها و نظام عقیدتی آن جامعه انجام می گیرد، و چون مطابق بینش اسلامی، تنها جهان بیني حق و به تبع آن تنها نظام عقیدتی و ارزشی صحیح دین اسلام است، ما مسلمانان عامل معناداری و جهت دهنده زندگی انسان را دین می دانیم.این رو فرهنگ در گونه سوم از تعاریف فوق بر دین انطباق می یابد. مگر آن که اجزای تشکیل دهنده فرهنگ را کمتر از اجزای تشکیل دهنده دین بدانیم، مثلا اجزای فرهنگ را صِرفا نظام ارزشی و رفتارهای موجود در جامعه دینی بدانیم که در این صورت فرهنگ زیر مجموعه و تابعی از دین خواهد بود.البته گاهی ارزشها در کشوری که دارای جامعه دینی است، فربه تر از صِرف ارزشهای دینی تعریف می شوند، در این صورت دو گونه ارزش خواهیم داشت: گونه اول ارزشهای ثابت و غیر قابل تغییر که از باورهای دیني سرچشمه می گیرند، گونه دوم ارزشهای ناشی از آداب و رسوم و قراردادهای اجتماعی که قابل تغییر و عوض شدن هستند.

Higher Education
Weekly
وزارت تحصیلات عالی - لوړو زده کړو وزارت - Ministry of Higher Education
۱۹۹ مه ګڼه - نهم کال -۱٤۰۱ هـ.ش - زمری

## به هدف هماهنگی های بیشتر با نمایندگان دعوت و ارشاد نهاد های تحصیلی خصوصی نشستی برگزار گردید



رئیس دعوت و ارشاد وزارت تحصیلات عالی نشستی را به هدف هماهنگی های بیشتر با نمایندگان دعوت و ارشاد نهاد های تحصیلی خصوصی برگزار نمود.

شیخ شاکرالله وحدت رئیس دعوت و ارشاد وزارت تحصیلات عالی ضمن خوش آمدید به نمایندگان دعوت و ارشاد در نهاد های تحصیلی خصوصی گفت که، امر به معروف و نهی از منکر وظیفه هر مسلمان است و ما کوشش می کنیم که در کنار علوم عصری زمینه تعلیمات دینی را نیز فراهم کنیم.

آقای وحدت روی بهتر شدن امور کاری، رعایت لوایح و هماهنگی های بیشتر تأکید نموده از نمایندگان متذکره خواست که، برنامه های را جهت رفع ضرورت های دینی محصلان روی دست گیرند.

همچنان، نمایندگان دعوت و ارشاد در نهاد های تحصیلی خصوصی، از رئیس دعوت و ارشاد وزارت تحصیلات عالی به خاطر راهنمایی های نیک شان ستایش نموده از تطبیق برنامه های دعوت و ارشاد در پوهنتون های خود اطمینان دادند.

## د لوړو زده کړو وزارت د محصلانو چارو د معینیت شورا ناسته ترسره شوه



په دغه ناسته کې له اجنډا سره سم د دولتي او خصوصي تحصیلي بنسټونو د محصلانو د اسنادو طی مراحل کولو او د ځینو محصلانو د نومونو د اصلاح، د ځینو خصوصي پوهنتونونو له لوري په فوق الیسانس پروګرامونو کې له اول ظرفیت څخه د زیاتو محصلانو د جذب او له ن

هایي مکتوب پرته له یوه خصوصي پوهنتون څخه بل خصوصي پوهنتون ته د څو تنو محصلانو د تبدیلۍ د ستونزې په اړه خبرې او لازمې پریکړې وشوې.

همدارنګه د شورا غړو د خصوصي تحصیلي بنسټونو د ۱٤۰۱ کال خزاني سمستر د کانکور په اړه بحث وکړ او ناسته د خیر په دعا سره پای ته ورسیده.

## به منظور پیشبرد بهتر امور کاری نشست میان ریاست نشرات و تکنالوژی معلوماتی برگزار شد



نشست مشترک ریاست تکنالوژی معلوماتی و ریاست نشرات، اطلاعات و ارتباط عامه وزارت تحصیلات عالی به هدف ایجاد دیتابیس و همکاری های مشترک در بخش های تخنیکی و تکنالوژی معلوماتی برگزار شد.

در این نشست، مدیر جان کوتوال رئیس نشرات، اطلاعات و ارتباط عامه و احمد ضیاء جبارخیل رئیس تکنالوژی معلوماتی و مسؤلان دو ریاست اشتراک داشتند.

نشست مذکور که با تلاوت آیات چند از کلام الله مجید آغاز شد، مدیر جان کوتوال رئیس نشرات، اطلاعات و ارتباط عامه این وزارت، روی ایجاد دیتابیس، جلوگیری از ساخت صفحات اجتماعی با استفاده از نام وزارت تحصیلات عالی، همکاری و هماهنگی های بیشتر میان دو ریاست صحبت نمود.

در مقابل احمد ضیاء جبارخیل رئیس تکنالوژی معلوماتی وزارت تحصیلات عالی در مورد ساخت دیتابیس برای ریاست نشرات و تشکیل تیم مشترک جهت هماهنگی های بیشتر میان دو ریاست صحبت نموده که از طرف ریاست نشرات، اطلاعات و روابط عامه جهت همکاری های مشترک در همه عرصه ها اطمینان داده شد.

همچنان در این نشست سایر مسوولان ریاست های متذکره هرکدام بالنوبه صحبت نموده مشکلات و پیشنهادات خود را در قسمت بهبود و تسریع امور کاری با هم شریک کردند.

## د بهرنیو اړیکو او بورسونو د تنظیم ریاست لاسته راوړنې



د بهرنیو اړیکو او بورسونو د تنظیم ریاست د لوړو زده کړو وزارت د قوانینو، پالیسیو، مقرراتو او لوایحو په تطبیق کولو سره، د بهرنیو اړیکو، فرهنګي چارو، د بورسونو د تنظیم او مدیریت برخو کې له داخلي او بهرنیو تحصیلي بنسټونو سره په ګډه چارې ترسره کوي.

په هیواد کې د ا.ا.ا له حاکمیت وروسته شاوخوا اته هیوادونو او بېلابېلو تحصیلي بنسټونو افغان محصلینو ته د لیسانس، ماسټرۍ او دوکتورا په سطحه(٥٢٢) سکالرشیپونه ورکړي، چې په دې برخو کې یاد ریاست له محصلینو سره خپله همکاري کړې او لا هم دوام لري.

دغه راز (۲۷۱) تنه د پوهنتونونو استادان، کارکوونکي او محصلان، چې (۲۳) تنه یې د لیسانس، (۱۱۸) تنه یې د ماسټرۍ او (۱۳۰) تنه د دوکتورا په برخو کې، د زده کړو په موخه د سیمې او نړۍ پوهنتونونو ته استول شوي دي.

همدارنګه د دولت په لګښت (۱۹۸) تنه محصلان د لیسانس، ماسټرۍ او دوکتورا په کچه د زده کړو لپاره د مالیزیا، ازبیکستان او ایران هیوادونو ته استول شوي او اوس مهال په زده کړو بوخت دي.

د لوړو زده کړو وزارت د بهرنیو اړیکو او بورسونو د تنظیم ریاست د بورسونو د تنظیم او ورته نورو برخو کې فعال ریاست دی، چې تل یې د افغان محصلینو او ورته نورو برخو کې فعالیتونه ترسره کړي دي.

هفته نامه تحصیلات عالی
صاحب امتیاز: وزارت تحصیلات عالی
مدیر مسوول: مدیرجان کوتوال
هیأت تحریر: اختر محمد عبیر، محمد اسلم اسلم و ناصر خان شیرزی
خبرنگاران: کاوون رمز، محب الله امیری و قاسم جویا
محل چاپ: مطبعه ریاست نشرات وزارت تحصیلات عالی
جمع آوری مواد: زمری یعقوبی
دیزاینر: هادی قدیری
مصحیح: الفت الله حکیم
تیراژ: ۲۵۰ نسخه
سال تاسیس: ۱۳۹۱ خورشیدی
شماره تماس: ۰۲۰۲۵۰۰۶۹۶
وب سایت وزارت: www.mohe.gov.af
آدرس الکترونیکی: ministrymohe@gmail.com